Bundesamt
für Migration
und Flüchtlinge

# د پناه غوښتونکو لپاره
# د پناه د درخواست په اړه مهم معلومات
PASCHTU

## د درخواست ورکولو لپاره کوم اسناد ضروري دي؟

د درخواست ورکولو موقع د مهاجرت او پناه د فدرالي دفتر سره ستاسو لومړنی ملاقات دی. مونږ به تاسو نه ستاسو د شخصي جزییاتو لکه د اوسېدو ځای، د مکتب او نورو لوړو زده کړو، د ژبو د پوهې او د سفر د لارې په اړه پوښتنې کوو. یو ترجمان یا ترجمانه به موجوده وي چې ستاسو ټولې خبرې به ترجمه کوي.

ستاسو د پناه په درخواست په تېزۍ کار کولو لپاره مهرباني وکړئ لاندې اسناد او مدارک، **تر کومه حده چې موجود وي**، د کاغذ په بڼه له ځان سره راوړئ:

**شخصي اسناد - مهرباني وکړئ یوازې اصلي اسناد**

- پاسپورټ
- تذکره
- د مکتب سند
- د پیدایش سند
- د موټروانی لېسنس
- د فامیل د ثبت نام سند
- فامیلي کتاب
- نکاح نامه
- د عسکرۍ کارت
- د وظیفې کارت
- د غرېتوب کارت
- د کار ثبوت
- تصدیقونه (د تصدیقونو فقط نقل جوړېږي، اصلي درته ستاسو د پناه د درخواست له بشپړېدو او داخلېدو وروسته بېرته درکوو چې تاسو يې ځان سره وړلی شئ)

**ستاسو د تېښتې د سببونو ثبوتونه**

- عکسونه
- د محکمې د پروسیجرونو احکام یا پرېکړې
- د گرفتارۍ امر
- د پولیسو د تفتیشو اعلانونه او یا د پولیسو د کار او اقدام نور اسناد
- د دړکو خطونه
- د اخبارونو لیکنې (په ځانګړي ډول چې ستاسو نوم پکې راغلی وي)
- بېتسما سرټیفکېټ
- د ټولنیزو رسنیو (فیسبوک، انسټاګرام، ټویټر او داسې نورو) پوسټونه چې ستاسو وطن نه د تېښتې د سببونو په اړه وي
- نور اسناد، د بېلګې په ډول د شاهدانو بیانونه

Bundesamt
für Migration
und Flüchtlinge

**تصديق نامې**

- د ډاکټر تصديق
- د ډاکټر خط
- د روانشناسی تشخيص
- د تشدد/وهلو ټکولو تصديق
- نور تصديقونه

**لطفاً په ياد ساتئ:** يوازې هغه اسناد له ځان سره راوړئ چې ستاسو د قضيې سره تړون لري. په تاسو لازمه ده چې اسناد مو په **کاغذ چاپ** کړئ او رايې وړئ. که چيرته اسناد درسره ډيجيټال وي، نو د خپلې استوګنې په مرکز کې پوښتنه وکړئ چې چيرته يې په کاغذ پرنټ کولی شئ.

تصديق نامې کېدلی شي چې ستاسو د خپل وطن وي، د بل کوم هيواد څخه وي او يا د المان څخه وي. که ضروري شوه ډاکټر ته لاړ شئ.

که تاسو ته د ابتدايي استوګنې په مرکز کې د اوسېدلو ځای **نه** وي درکړل شوی بلکې په بل ځای کې د اوسېدلو ځای درکړل شوی وي نو مهرباني وکړئ مونږ ته خپل ادرس هم راکړئ.

کله چې ستاسو د پناه درخواست جوړ او داخل شي، نو تاسو ته به ستاسو د پناه د مودې د ادامې پورې يو د اقامې کارت درکړی شي. دا بايد تل د ځان سره وګرځوئ.